

**دمقالی لیکونکی:** راکیش سود (Rakesh Sood).
**منبع او خپریدو نیټه** : هندو «۲۰۱۶-۱۲-۲۸».
**ژباړونکی** : پوهندوی دوکتور سیدحسام «مل» .

---

# افغانستان ،هندوستان او ترومپ

## Afghanistan ,India , and Trump

**دونالد ترومپ دخپل محدود تاکنو سره سره بیاهم دافغانستا ن د تیکا و او برقرارۍ د پا ره به خپل هلي ځلی ونه سپموي اوهمدا شان هغه به په دي بهیر کي هند دخپل یووړ او قابل داعتماد شریک هم ترلاسه کړي**

دونالد ترومپ دامریکي دمتحده ایالاتو پنځه څلویښتم منتخب جمهور ریس دي چي دجنوري په شلمه نیټه کي دامریکی دمتحده ایالاتو ددولت واک په داسی یو وخت کي په لاس اخلي کوم چي دهغه هیواد دخپل تاریخ په اوږدو کی دیو اوږد جګړی سره مخامخ اواخته دی چي هغه دافغانستان جنګ دی داسی یو جنګ چی تر اوسه دامریکی دمتحده ایالاتودری جمهوراولسمشران په هغه کی راښکیل شوي دغه جګړه په کال (۲۰۰۱) کی دجورج دبیلو بوش پواسطه سره پیل شو او د هغه څخه وروسته بیا جګړه دهغه ځاي نا ستي (اوباما) ته او اوس ښاغلی دونالد ترومپ ته په میراث را رسیږي .



سره دهغه چې د (تلپاتې آزادي ) عمليات ددسمبر په (۲۸) کال (۲۰۱۴) دنړيوال سوله ساتو ځواکونو (ايساف) پواسطه سره پاي ته ورسيد- لاکن بياهم دامريکې دمتحده ايالاتو (۹۸۰۰) سرتيرې چې د نړيوال د (۱۲۰۰۰) بين المللی ځواکونو له جملې څخه چې دغوڅ عمليا تونو دنده لرې په افغانستا ن کې را پا تې دي. اما د شورشيا نو په مقابل کې دهيواد دامنيت د سا تنې مسوليت دوه کاله دمخه دافغانستان ملی امنيت ځواکونو ( پوځ او پوليس ) ته ورسپارل شوی دی يواځې دامريکې (۹۸۰۰) سرتيرې په افغانستان کې داستخباراتو ، هوايي قوتونو ، اود افغانستان دخاصو قوتونو سره دملاتړ په منظور پا تې دی چي په اوسنی حا لت کې دهغو حضور ضرور ګڼل کيږي .

دښاغلی جورج دبليو بوش دپاره په افغانستان کې دالقاعده اودطالبانو پرضد جنګ اوجګړه دهغه د(تروريرضد جګړه) کې يو نه بيليد ونکې هيله او غوښتني وه کوم چې هغه دهمدي اصل په پيروي سره د دسمبر په شلم نيته کال (۲۰۰۱) کې جنګ په افغانستان کي په لاره واچول داسي يو جنګ اوجګړه چې د امريکې د متحده ايالاتو د نظامی قوتونو سره پراخه بين المللی ملا تړ هم ترسره شو چې ښاغلی بوش دهمدی بين المللی ملا تړ په تر لاسه کولو سره په کا ل (۲۰۰۳) کې پر عراق باندې د تيولنيز وژونکې وسلې د لرو په پلمه چې په واقيعت کې اصلاً په عراق کې د ا ډول وسلې او مهمات موجود نه وه يرغل وکړ او په دی شا ن د امريکی د متحده ايالاتو د لوړ پوړو چارواکو پا م له افغانستان څخه کم او دهغو ټوله توجه دعراق په لوري معطوف شو .

په کال (۲۰۰۹) کې ښاغلي بارک «اوباما» دامريکي د متحده ايالاتو جمهور ريس دعراق اودافغانستان دجنګ اودجګړې تر مينځ په رغنده بنی سره د تفاوت اود توبير کرښه راوکاږل اوپخپل وروستني خبرو کې دغه جنګ د يو (ضروری جنګ) په بڼه تشريح او توصيف کړ او په ډير سرلوړي سره وويل چي په دې جنک کي بريا زمونږ دامريکا يا نو دي نو هغه د همدی اصل په نظر کي نيولو سره په کا ل (۲۰۰۹) کي دامريکا يی سرتيرو په شمير کې زيا توالی راوست اود هغه سره جوخت له ا فغانستا ن څخه دخپل سرتيرو دوتلو د نيټی اعلام هم تر سره کړ. کوم چې دهغه دغه ناقص پريکړه ښا يي چې د هغه د کورنې دعملی واسواس پا يلې وه چې د هغه د همدې پريکړې په نتيجه کي شورشيانو ته فرصت تر لاسه شو چي په ارامي سره نفس وکا ږی يا داچې په داده زړه سره خپل ستړتيا وبا سي .

**سود اوزيان ( Gains and Losses)** : دافغانستان په دغه روانه جګړه کی په دی تير پنځلسو کلونو کې ډير وينې تويوی اوډير پيسې او خزانې ولګول شو ، يواځې دامريکې دمتحده ايالاتو له خوا په افغانستان کې (۸۰۰) بيليون دالر په مصرف ورسيد چې ددغه پيسو له جملی څخه (۱۱۵) بيلون دالر دافغا نستا ن د بيا رغونی په برخه کی ولګول شو دا مقدار پيسي له هغه مبلغ پيسو څخه زيا ت دي کوم چې ددوهمې نړيوال جګړې په پاي کی دامريکی له خوا دما رشا ل پلان تر عنوان لاندې داروپا دخرا بيو د بيا رغونې

په برخه کې (۱۰۵) بیلیون دالر په مصرف رسیدلي وه .

ایساف قوتونه (دځلویښتو هیواد نو سرتیري) دافغانستان دجګړې په دي تیرو پنځلسو کلونو کي خپل (۳۵۰۰) تنه سرتیری اوامریکا یا نو خپل (۲۴۰۰) تنه سرتیری دلاسه ورکړل چي دا به د تاریخ په پا نه کی پاتي شي .

سربیره پر پورتني یا دونو د همدی کال په اوایلو کي **د نا تو** دغړو هیوادونو استاذی **دوارسا** په غونډه کي داسی پریکړي وکړل چی موجوده نړیوال سرتیری په افغا نستا ن کي ترکال (۲۰۲۰) پوری با قی دی پا تي شی. اود ا فغا نستا ن د ملی ځواکونو (پوځ اوپولیس) د پا ره هرکا ل (4,5) ملیا رد دالر مرسته وشي چي دخپل هیواد څخه سا تنه وکړي .

دافغانستان له روانو حالاتو څخه داسي رابښکاری چي ددي هیواد په حالاتو کي دبدلون اود تغیرچانس په دي نژدي وختونو کي ناممکن اوډیر کم ترسترګو کیږي اوداځکه چي په دي وروستیو کلونوکي د افغنستان د نظا می اود ملکی خلکود تلفا تود شمیر کچه ډ یر زیات شوی دي کوم چي په مجموعي ډول سره د ملکی تلفا تو شمیر (۳۱۰۰۰) تنه اټکل شوی- د یا د ونی وړ مطلب دادي چی یواځی په دغه روان کا ل کي د افغا نستا ن د امنیتی قوتونو د تلفا تو په شمیر کي د پام وړ زیا تولی راغلی دي یعني د(۲۱۰۰۰) تنو څخه په کال (۲۰۱۴) کي بیا تر ننه پوری دنظامیانود تلفات شمیر (۳۰۰۰۰) تنو ته رسید لی دي.

دا همیت اودیادونی بل مطلب دا چي دافغانستان د(۴۸۰) اولسوالیو له جملی څخه یواځی (۲۵۸) اولسوالی دافغانستان د دولت او زیا تر د هیواد په جنوب کي (۳۳) اولسوالی د شورشیا نو په کنترول کي دی چي با قي (۱۱۶) نور اولسوالي د دولت اود شورشیا نو درقا بت اود سیا لي په منا طقو بدل شوی دی(یعني کله د دولت اوکله د شورشیا نو تر ولکي لاندي راځي ) .

دا ا وس یو واقیعت دی چي په افغانستا ن کي ځني رغنده پرمختګونه تر سترګو کیږی چي دهغو پر مختګونو له جملی څخه دوګړو د ژوند د توقع اوسط چي په کال (۲۰۰۲) کی (۴۰) کال وه اوس دغه رقم (۶۲) ته لوړ شوی د زده کونکو شمیر چي مخکي (۹۰۰۰۰۰) هلکان اوانجنو وه اوس د هغه رقم (۸) ملیونو ته لوړشوی چي دهغه (1/3) برخه جنکیان دی د بلی خوا څخه د سواد آموزی په کچه کي هم تغیرات ترسترګو کیږی یعنی دسواد آموزی کچه له (۱۲) سلنه څخه اوس (۳۴) سلنه پوری رسید لي دي د بلی خوا څخه افغانستان یو له هغو هیوادونو څخه دي چی دهغه نفوس ځوان دي یعنی د افغا نستا ن د(۱۸) کلونو دمینځنی عمر په نظرکی نیولو سره (۶۰) سلنه (۲۱) کا ل عمر لرونکي خلک دي چی د دی پورتني پر مختګونو په نظر کي نیولو سره کولای شو دا سی ادعا وکړو چي په دي هیواد کي د سو لي رامینځته کیدل غیر ممکن نه

برېښنی .

## مختلف سیا سي کړنلا ري (Different Political Approaches) : دافغانستان

پخواني جمهور ریس ښاغلي حامد «کرزي» د خپل واکمني په اوایلو کي دافغانستان د ستونزي دآوارولو او د سولي د دروا زی د کولپ (قفل) د وازولو ا و د را خلاصولو کنجي (کلید) پاکستان ګڼل – هغه طا لبا ن خپل د «پښتون ورور» په نوم سره یادول او هڅه کول چي خپل اړیکي دپاکستان سره لا پسي ښه کړي هغه یعنی « کرزی» پخپل ډیرو وینا اوخبرو کي هندوستان دخپل هیواددپخواني دوست اوپاکستان يی دخپل غبرګون « دوګانګی» ورور په نوم سره توصیفول – حال داچي د حامد کرزی دا ډول استعاره چي پاکستان دهغه غبرګون ورور دی چند ان منا سب استعا ره ونه اوسي اوداځکه چي کیداي شی چي یو ددي غبرګون ورور مړ وزیږي (سقط وکړی) یا داچي د (۲۴) ساعتو دزیږیدو څخه وروسته ددوګانګیو یو پر دریمه برخه خپل ژوند دلاسه ورکړي کوم چي دا ډول څرګندوني یعنی پاکستان ته دومره اهمیت ورکول به څه پایلي ولری اما لا ډیر وخت نه وه تیر شوی چي دپاکستان اولسمشر دحامد کرزی د نیکو هیلو په مقابل کی له خپل ځانه سخت غبرګون ښیی اود (کرزی) تول خبری له یو سره ردوی او هڅه کوی چي دخپل استخبازاتی(آی اس آی) کانالونو له لاری دکرزی سره لمړی د ملا عبیدالله اوبیا وروسته د ملا برادر تما سونه شنډ کړی لکه چي همغسی هم وکړ .

ښاغلي اشرف «غني» وروسته له دی چي دافغانستان ددولت واک تر لاسه کړ هغه دپاکستان سره دخپل دوستانه اودملګرتیا اړیکي دلا پیاوړي کیدو په منظور سره دهغی چي هغه د حامد «کرزي» د پاکستان سره دبی ثمر هڅو شاهد هم وه په اګاها نه بني سره دخپل وحدت ملی حکومت د سیا سي کمزورتیا په لرلو سره لاپسی ګامونه اوچت کړ چي که وشي کړی دحامد « کرزی» په پرتله ځان پاکستان ته نورهم نژدي کړي ، هغه یعنی ښاغلی محمد اشرف «غني» دتولومنل شوی دیپلوماتیکی له مقرراتو څخه په سرغړوني سره خپل وقار اودخپل هیواد برم تر پښو لاندي کړ اوله نژدی څخه د پاکستان دپوځ د ستردرستیز یا دهغه هیوادد نظامی د مشر راحیل شریف د ملاقات دپاره راولپنډی ته په سفر لاړ کوم چي دهغه دا ډول کړنه سیا سیی کارپوها نو د پا ره یولړ سوالونه رامینځته کړ همدارنګه ښاغلي اشرف غنی دافغانستان داسلامی جمهوریت جمهور ریس په تکتیکي بني سره دپاکستان غوښتني ته غاړه کینبود اودخپل هیواد له ویاړ ډک تاریخی منا سبا ت چي دهند سره لرل په دغه تاريخي منا سبا توکی کمی راوست اوهغه هم په دي هیله چي که پاکستان دافغانستان سره دطالبانو دسیاسی پخلاینی لاره آواره کړي نود ښاغلي «غني» دهمدي هیلی په لرلو سره پاکستان حا ضر شو چي د نوی همغږي په څلور اړخیز ډله کي ونډه واخلی کوم چي په دغه همغږی ډله کي دافغانستان – چین –امریکا اود پاکستان استاذی ګډون درلود. په هرصورت ښاغلي «غني» له حده زیات

هغه وخت دخپل دوستا نه اړیکی په لرلوسره د پا کستان په درغلی او خیا نت با ندي پوه شوکله چي هغه هیواد د ملامحمد عمر د مړنـي قصه ددوه کالو د پا ره پټ سا تلي وه سره دهغه چي «غنـي» په پر له پسی بنی دپاکستان سره تماسونه لرل اما د (آی اس آی) په غوړ مالي او د پاکستان د استخبا راتي کړیو پواسطه سره د ملا عمر ځاي ناستي ملا منصور وټاکل شوچي په دي شان شورشیان لاپسی غښتلی کړی کوم چي په دی شان د « غني» دنیکوهیلو اودغوښتنو په ځواب کی پا کستا ن «غنی» ته د ملا منصور په ټاکنوسره دجنګ اودشخړي پیغام ولیږل.

دیا دونی بل مهم مطلب دا چی دامریکي دمتحده ایالاتو هریو جمهورو ریسا نو ښاغلي «بوش» او ښاغلي «اوباما» دخپل ځانګړي سلوک اود روش په لرلو سره د افغانستا ن ستونزی په پاکستا ن کی لید ل اود دی ستونزی د اوچتولو د پا ره پرته له دي چي پر پاکستان باندي مستقیماً فشار واچوي ، غوښتلي چي ستونزه په دیپلوماتیکی اوپه مسالمت آمیزتګل اوبرخورد سره له مینځه ویسي – نو دهمدی اصل په نظرکی نیولو سره ښاغلي «بوش» دخپل زمامداری په لمړي دوره کي دښاغلي مشرف په مځ سره کرښه و ویستل اوهغه هم په دي منظور چي په افغا نستا ن کی تولتیا کني بی د پردی د لاس وهنی څخه ترسره شي اما ښاغلي «بوش» دخپل زمامداری په دوهمه پړاوکی پرعراق باندي یرغل اودهغه هیواد په چاروکی بوخت شو ا دهغه پا ملرنه دافغنستان په اړه یو څه کم شو اما ښاغلي «اوباما» دافغانستا ن درواني شخړی دله مینځه وړلو دپار دیپلواسي غوره کړ او خپل ځانګړی استاذی ښاغلي ریچارد هالبروک د افغانستان –پاکستان دپاره خپل سفیر وټاکل اما ښاغلي «اوباما» وروسته له یو څه مودي داسی پریکړه وکړ چی دا مریکی دمتحده ایالاتو د پاره دافغانستان په هکله د ستونزی د اساسی دحل لاره دادي چي با ید په افغانستان کی خپل رول او حضور کمه کړی اود پاکستا ن د پا ره د کیری – لوګر د کمکونو په کڅوړه کي د لرګي پر ځای دیر ګا زری ځاي پر ځای کړي . (دا یوضرب المثل دی چي چاته څوک دهغه دکړونو په مقابل کي مکافات یا مجازات ورکوی ).

**له حده زیات دپاکستا ن پراخید نه (Pakistan’s Overreach)**: د قبا یلو ترمینځ دبیلتون په مقصد د دیورند د تحمیلی کرښی دراکیښل شوی په سراسری برخو کي د پاکستان مشروع ګڼلی په دی واقعیت پوري اړین بریښی چي پاکستان په افغانستان کي دهرډول سیا سي پخلاینی اهمیت چي ډیرحیا تي دي پوره درک کړي اما له بده مرغه داپاکستان دي چی له خپل تېر څخه پښی رایستلي او غواړی چي د کابل اود ډهلی تر مینځ منا سبا ت او اړیکي پخپل ګټه ویتو کړی او افغا نا ن وهڅوی اویا دی ته مجبور کړي چي د پاکستا ن غوښتني پرځای کړي چي دا پخپله یو نا درست غو ښتنه او توقع دي .

پاکستان خپل سیا ست دهند اودافغانستان د پاره په لمړي درجه کي د خپل پوځ پواسطه

سره په دي پلمه چي هندوستان هغه ته يو ګواښ دي وينې اوڼاکي ،همداشان پاکستان خپل تعلق افغانستان سره دهند د منشور له طريقه په ناچاری سره وينی او هغه داچي پاکستان يواځی تراوسه توانيد لی دی چي د ا فغانستا ن سره خپل اړيکي د بی با وری ، شک اود د ښمنی پر ستنو باندی ولاړ وسا تي ، دبلي خوا څخه هسی چي ښکا ری ډير ليری دي چي پاکستان خپل اړيکی د هندوستان سره په دی راتلونکي وختونو کي عادی اونورمال وګرځوی نو په دي شان سليم عقل داحکم کوی چي پاکستان بايد په افغانستان کي جوړونکي نقش ولوبوی دافغانستان استقلال ، تما ميت ارضی او ملی حا کميت ومنی اوپه منطقه کي دهند سره له رقا بت اوسيا لي څخه ډده وکړي .

هغه څه چي د لته دهغه يا دونه ضرورګڼل کيږي هغه دادی چي داوسنی اوضاع او حالاتو څخه داسي ښکاري چي پا کستان په افغانستان کي دا حتما لی سيا سی پخلاينی دپلی کيد و په اړين نه غواړی چي پخپل چلند کي بد لون راوړي اما د بلی خوا څخه طالبان هم د ير مات شوی دي يعنی هغه داچي نن هغوی نه ويت کنګ دي اونه هم حزب الله – بلکه دهغوی توټی توټی کيد ل له هغو څخه دا توان اخيستی دی چی هغوی نور نشي کولای چي په افغانستان کي خپل تروريستی حملا تو ته لکه د پخوا په شا ن تر سره کړي اما بی ويلو دي پا تي نشي اوهغه داچي ډير ليری ښکاری چي طالبان په افغانستان کي د پخلاينی درامينځته کيد و د پاره د مذاکری د ميز تر شا کينيني .

د بلی خواڅخه په عين وخت کي دافغانستان دوحد ت ملي دولت په کابل کي يو ځواکمن او غښتلی دولت هم نه دي چي دخپل مخالفينو سره دخبرو اترو فضا ګرم وسا تي کوم چی دا پخپله دپاکستان ورتيا هم را ټيټوی چي طالبان تر يو حده پوري و هڅوی چي مذاکری ته غاړه کيږدي ګرچه د دی امکا ن شا يد ميسر وی چي سره پټ ملاقا تونه او ليد نی ترسره شي اما بيا هم د ضروری سيا سی پا نګي د نشتوالی له امله د پخلا ينی ضما نت نشی کيدلای .

د کا بل ننګونه په دی کي دي چي دولت څنګه دبيا پخلاينی په پروسه کي د طا لبا نو اود پاکستان د پوځ سره د پخلاينی څو اړخيزو خواوته ونډه ورکړي - تندرو طا لبا نو کوم چي دهغو څخه دحقا نی شبکي استاذ يتوب کوی هغوي په دي پريکړه کي دی چي جګړی ته تر پا يه پوری دوام ورکوي بيا د بلي خوا څخه مينځلاری طالبان غواړي چي له افغانستان څخه ټول با ند نی سرتيري ووځی نو دهمدی پريکړو په لړ کي که چيری دکا بل رژيم د طا لبا نو غوښتنی ته غا ړه کيږدی نو په هغه صورت کی نه يواځی داچي دافغانستان دغه کمزوری ايتلافی يا دوحد ت ملی دولت سقوط سره مخا مخ کيږي بلکه د نوموړی دولت ما شين د بين المللی کمکونو په درېد و سره دکار ولويږی ګرچه دقدرت ويش شا يد وشی کړی چی کار وکړی لکه هغسی چي په دی وروستيو وختو کي دافغانستان د وحد ت ملی دولت دګلبد ين حکمتيارسره دقدرت پر ويش باندي يو توافقنامه لاس ليک کړ اما بی ويلو دی پا تي نشی چي په کابل کي هيڅ يو حکومت د تند لارو

طالبان غوښتنی ته غاړه نه ایږدی او دهغوی خواستی او غوښتنی نه مني .

## دهند عامل (The India factor): هند دافغانستان سره داقتصادی همکاریو

یوډیر اغیزمن پروګرام لري چي د هغه ښه بیلګه دهند دخوا د افغانستان د بیا رغوني په پروګرام کي دوه ملیارده ډالر ولګول اودهمدی کا ل په لمړیو کي د یوه ملیا رد ډالرونوی مرستی ژمنه هم کړي دي -هند یا نوهم دحقا نی دشبکی اودلشکرطیبه د تروریستا نو له یرغل او حملو سره خپل ژوند په افغانستان کی دلاسه ورکړل اما سره د دی ناخوالی او راپیش شوی مصیبت سره سره بیاهم پخپل مناسبا تو کی دافغانستان ددولت سره بد لون را نوړل اواصلاً نه غواړی چي د هند تا ریخي منا سبا ت دافغانستان سره خړ وپړ شي بلکه دهری ورځی په تیرید و سره د دی دواړو هیوادونو ترمینځ مناسبات لا پسي ِغښتلی کیږی کوم چي په دي ورځو کي ددی دواړو هیوادونو ترمینځ په نظا مي برخه کي هم پرمختګونه پلی شوی اود ودي په حا ل کي دي - هند به بیا هیڅکله خپل سفارت په کابل کي به ونه تړي لکه چي د طا لبا نو دواکمني په موده کي خپل سفارت تړلی وه .

په هرصورت کله چي دامریکی دمتحده ایالاتو نوی منتخب ریس ښاغلي دونالد ترومپ دامریکی ددولت واک دجنوری په میا شت کي په غاړه واخلی نو په هغه وخت کی به داچانس تر لاسه کړي چي د افغانستا ن پر موضوع با ندي څه ډول تصمیم نیسی اما داوضاعو څخه داسی رامعلومیږی چي له افغانستان څخه دامریکی دسترتیرو بشپړ وتنه له پوښتني څخه بهر دي اما ددونالد ترومپ ننګونه به داوی چي هغه د پاکستان سره به څه ډول حساب او کتاب کوی چي پاکستان دی باید پخپل روان سیا ست کی دافغانستان په اړین بد لون راوړي اما له حالاتو څخه داسی معلومیږی چي دونالد ترومپ غواړی چي دافغانستان دملی اردو دلا پیاوړتیا د پاره لازمي مرستي ترسره کړی ترڅو چي افغا ني ځواکونه وشی کړي چي د شورشیا نو په مقا بل کي وجنګیږي او هم د افغانستا ن د (۲۰۱۹) کال دتولټاکني څخه بشپړ ملاتړ وکړی ترڅو چي د تولټا کنی په پا یله کی یو منسجم دولت رامینځته شي اوهمدا شان هغه به د **نرند را مودی** (Narendra Modi) دولت پخپل اړخ کی یودوست اوملګری دولت به ترلاسه کړي .

**ددی مقالی لیکونکی ښاغلی راکش سود دهند له خوا په افغانستان کی پخوانی سفیر او اوس په یوه ستر تحقیقا تي بنیاد کی دیو محقق په صفت دنده تر سره کوی دهغه ایمل دا ددي**(rakeshsood2001@yahoo.com) .

------------------------------------------------ په درنا وی ۲۰۱۷-۱-۳